# د آلمان سفارت ته څېرمه د خونړي بمي برید سیاسي ابعاد!



د روان لمریز کال د غبرګولي په لسمه، د چهارشنبې ورځ سهار اته بجې او شل دقیقې د کابل په وزیر اکبرخان سیمه کې آلمان سفارت ته څېرمه درنه چاودنه وشوه. چاودنه دومره درنه وه چې د وزیر اکبر خان او شاوخوا سیمې ډېرې ودانۍ یې سختې زیانمنې کړې. په پېښه کې د قربانیانو رسمي شمېرې له ۹۰ څخه د ډېرو کسانو د وژل کېدو او تر ۴۵۰ د زیاتو کسانو د ټپي کېدو خبر ورکوي. حال داچې واقعي شمېرې تر دې ډېرې لوړې برېښي، ځکه تر اوسه لسګونه داسې کسان شته، چې مړي او ژوندي یې لاهم نه دی معلوم شوي. چهارشنبې ټوله ورځ خلکو او رسنیو انتظار کاوه، چې اوس به بیا هماغه پخوانۍ وسله والې ډلې د دغه چاودنې مسوولیت پر غاړه اخلي؛ مګر د دې پر خلاف د ورځې په پای کې په کابل کې د امریکایي ترور او وحشت توجیه کوونکې حکومتي ادارې د مجبوریت له مخې د دغه وحشیانه برید پړه د پاکستان پر استخباراتي ادارې «آی.اس.آی» او حقاني شبکې ور واچوله. د پېښې په بهیر کې د جان کیري د حکومت مشرتابه محمد اشرف غني د ۱۱ طالب بندیانو د اعدام د حکم د لاسلیک کولو ګوت څنډنه هم وکړه، چې د طالبانو له خوا له سخت غبرګون سره مخ شو او د هغوی د اعدام په صورت کې یې د غچ اخیستنې اخطار ورکړ. له دې وروسته د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند نفیس ذکریا د افغانستان دغه تورونه رد او بې بنسټه وبلل او زیاته یې کړه؛ چې په دې پلمه نورو ته د پړې ګوتې نیول او د هغې له لارې د خپلو ناکامیو پټول مرستندویه خبره نه ده.

په افغانستان کې دا ډول ترور او وحشت په داسې حال کې زور اخیستی، چې د هر میلادي کال په پای کې امریکایي سیاسي او نظامي چارواکي د سخت خونړي کال وړاندوینې کوي. دا ځل هم د امریکا د دفاع وزیر جیمز متیس په تېره اپریل میاشت کې له کابل څخه د لیدنې کتنې پرمهال خبرداری ورکړ، چې روان ۲۰۱۷م کال به د افغانانو لپاره تر ټولو سخت کال وي او دا ډول ترور او وحشت د دغه امریکایي تروریست د وینا تر ټولو پیاوړی ثبوت دی، چې د تېر په څېر به یې د خپلو وحشیانه بریدونو د شدت او یرغلګرو پوځیانو د زیاتوالي لپاره وکاروي.

د داسې سترو تروریستي پېښو پر مهال باید د سترو کپیټلیستي «پانګوالو» یا استعمارګرو هېوادونو ترمنځ د خپلمنځي ګټو پر سر د جګړې منطق باید له پامه ونه غورځول شي. د دغو هېوادونو ترمنځ مستقیمه جګړه، حتماً په ستره نړیواله جګړه بدلېدونکې ده، له همدې امله یې د ملګرو ملتونو سازمان او د دولتونو او ملتونو ترمنځ د اړیکو نړیوال قوانین رامنځ ته کړي؛ ترڅو په نړۍ کې د سترو هېوادونو ترمنځ د نړیوالې جګړې مخه ونیسي او په نړۍ کې د دوی په اند سوله ټینګه کړي. حال دا چې دا د سترو هېوادونو ترمنځ د سولې مفهوم دی. په اشغال شوو او مستعمره هېوادونو کې د همغه هېواد د وګړو او شاخوا ګاونډیانو د استخباراتو په واسطه د هغوی په وینو او شتمنیو د هغوی پر خپله خاوره، خپلې ښکېلاکې رقابتي جګړې پر مخ بیایي. دوی د خپلو ګټو پر سر په خپلو مستعمرو کې د خپلو ګوډاګیانو په واسطه خپلمنځي جګړې په نیابتي ډول پر مخ وړي او افغانستان هم د یمن، لیبیا او ... په څېر د همدغو نیابتي جګړو له ګرمو ډګرونو څخه یو دی.

له شک پرته د کابل په دغه دیپلوماتیکه سیمه کې چې لومړی درجه امنیتي تدابیر لري، د داسې سترې چاودنې تنظیمول د امریکا له استخباراتي او امنیتي ملاتړ، همغږۍ او همکارۍ پرته له امکان څخه ډېر لرې برېښي. د دغې سیمې ټولو بهرنیانو ته دوې ورځې وړاندې امنیتي خبرداری ورکړل شوی و، ترڅو سیمه تخلیه کړي؛ ځکه سیمه تر ستر امنیتي تهدید لاندې اعلان شوې وه. له همدې امله ډېری بهرنیان د چاودنې له شاوخوا سیمې څخه مخکې له مخکې وتلي وو. بل خوا چاودنه دومره پیاوړې او لویه وه، چې د وسله والو ډلو له تخنیکي او وسله ییزو امکاناتو څخه ډېره اوچته وه؛ ځکه د دې پر ځای چې چاودنه موټر بم وي، ګڼ شواهد دا ښیي، چې له هوا څخه توغوندیز او یا بمي برید دی. د سیمې اکثره خلکو له چاودنې مخکې په هوا کې د توغوندي شنهار اورېدلی او ورپسې د چاودنې غږ تر غوږو شوی دی. همداراز په پېښه کې د ټانکر مطرح کېدل هغه څه دي، چې مخکې له مخکې د پېښې ټول تبلیغاتي او سیاسي اړخونه بشپړ مدیریت او همغږي شوي ثابتوي؛ ځکه د هغه ټانکر له لارې دغه چاودنه رامنځ ته شوې، چې په دغه دیپلوماتیکه سیمه کې یې د تګ راتګ او فعالیت اجازه درلوده. نو ټانکر تر ډېره بهانه ده او که بالفرض ټانکر وي، بیا هم اصلاً ټانکر خپله د جي پي اس له لارې د توغوندویي برید ښکار ګرځېدلی دی، ترڅو عامه افکارو ته دغه برید موټر بم ثابت کړي. له دې ټولو سره-سره د انفجار ځای دومره ژور شوی، چې خپله پر دې دلالت کوي، چې له هوا څخه د توغندي او یا بم په واسطه په نښه شوی، نه دا چې موټر بم دې ځای دومره ژور کړي. موټر بم له دریو خواوو څخه آزادي لري او د ځمکې پر ځای نورو دریو لورو ته ډېر تخریب کوي؛ حال دا چې د دې اصلي زور له ځمکې سره د ټکر په نتیجه کې د ژورتیا سبب او په افقي ډول د سخت تخریب سبب شوی. همداراز یو شمېر ویډیوګانې دا ښیي چې د چاودنې د ځای د پاسه ډرون کمرې مخکې له مخکې الوزول شوې او د پېښې صحنه مخکې له مخکې په ویډیویي بڼه ثبتوي، چې زموږ د یو شمېر ساده هېوادوالو له خوا د شهیدانو د ارواګانو د انتقال لپاره د ملایکو پر راتګ تعبیر شوې دي. په ټوله کې پېښه د اسلامي امت پر وړاندې د صلیبي تروریزم د رهبر او لارښود هېواد امریکا او د هغې د ګوډاګي حکومت د استخباراتي کړیو او امنیتي کمپنیو له خوا ترسره شوې، ترڅو یو شمېر رقیبو هېوادونو ته زموږ په «وړیا او بې رنګه» وینه خپل سیاسي پیغام ورسوي. هغه داسې:

لکه څنګه چې له سعودي څخه د ناټو او جي ۷ هېوادونو د سرمشریزو لپاره اروپا ته د ټرامپ د سفر پر مهال د بریتانیا په منچسټر کې ستره تروریستي پېښه ترسره شوه؛ د دغه پېښې له لارې امریکا د سعودي په شمول ټولو هغو عربي هېوادونو ته دا پیغام ورکړ چې هلته لا تر اوسه د انګلیس سیاسي او استخباراتي نفوذ شته، چې نور نو انګلستان هغه پخوانۍ استعماري وړتیا نه لري او دومره ضعیف او ناتوانه شوی، چې په خپل ټاټوبي کې د خپلو خلکو امنیت نشي خوندي کولای، نو ستاسو به څه خوندي کړي. له بل پلوه یې د اروپا د امنیت د خوندي کولو په موخه د ناټو سازمان د فعالیت دوام ته اړتیا ثابتوله، ترڅو د اروپا عامه افکارو ته ثابته کړي، چې د تروریزم خطر ستاسو تر کوره رارسېدلی، نو اړینه ده چې پر خپلو حکومتونو فشار راوړی، ترڅو د ناټو سازمان په تمویل او دوام کې خپلې ژمنې ترسره کړي.

د روان میلادي کال د مې په ۲۵مه په بروکسل کې د ناټو سرمشریزه او د مې په (۲۶-۲۷)مه په ایټالیا کې د اوو سترو اقتصادي ځواکونو سرمشریزه دایره شوه. هغوی د اسلام او اسلامي امت پر وړاندې د روانې جګړې پر سر د توافق ترڅنګ د خپلو ګټو پر سر ژور اختلافونه همداسې لاینحل پاتې شول او هر یوه هڅه کوله ترڅو بل ته د خپلو ګټو د تامین په موخه ژورې څاګانې وکني. ځکه ټرامپ د خپل ټاکنیز کمپاین پر مهال له ناټو څخه پر وتلو او د دغه سازمان پر بې ځایه توب ټینګار کاوه. مګر د دغه سازمان په سرمشریزه کې د ګډون پر مهال یې ناټو د نړۍ د امن او سولې سازمان وباله او له غړو هېوادونو څخه یې وغوښتل چې له دغه سازمان سره خپلې ژمنې بشپړې کړي او هر غړی هېواد باید خپل ٪۲ خالص تولید دغه سازمان ته ورکړي؛ چې په اړه یې د هغه اقتصادي مشاور ګاري کوهن وویل؛ د جمهور رییس نظر پرمختګ کړی او بدل شوی، له همدې امله دلته راغلی دی، ترڅو له واقعیت څخه ځان ښه خبر کړي. بل پلو د ناټو سرمنشي سټولټنبرګ د ناټو له غړو هېوادونو څخه د مالي ژمنو په اړه د ټرامپ موقف «سخت او ټینګ» وباله. نو هغه دولت چې د خپلو مبدئي ارزښتونو پر ځای یوازې منفعت په نظر کې ونیسي، نور د سخت مخ پر ځوړ حالت سره مخ برېښي.

بل خوا ټرامپ د جي ۷ هېوادونو په سرمشریزه کې د آلمان پر بهرنۍ اقتصادي تګلاره سختې نیوکې وکړې او زیاته یې کړه چې آلمان له امریکا سره د سوداګریزې راکړې ورکړې په پایله کې ډېره ګټه ترلاسه کړې او اړینه ده ترڅو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د امریکا له خوا د آلمان د امنیت د ټینګښت بیه امریکا ته ورکړي. مګر آلمان د ټرامپ دا غوښتنه ونه منله. همداراز آلمان او فرانسې د ۲۰۱۵م کال د پاریس د چاپېریال ساتنې تړون ته د امریکا پر ژمنتیا ډېر ټینګار وکړ او په وار- وار یې پر ټرامپ فشار راووړ ترڅو هغه له یاد تړون څخه سرغړونه ونه کړي، مګر ټرامپ د یوې اونۍ په اوږدو کې د خپلې پرېکړې د اعلان ژمنه ورکړه، چې دوې ورځې وړاندې یې له دغه تړون څخه د امریکا وتنه رسماً اعلان کړه او ویې ویل چې دا د امریکا له ګټو سره سمون نه لري.

سره له دې په رياض او اسرائيلو کې د اروپا پر خلاف د ټرامپ تود هرکلی وشو او سعوديانو سلګونه ملیارده ډالر ورکړل؛ مګر په اروپا کې یې نه هغسې استقبال وشو، نه یې هغه غوښتنه ومنل شوه، چې له المان څخه د دويمې نړيوالې جګړې وروسته د هغوی د امنیت د خونديتوب په بدل کې یې ملياردونه ډالر ورکړي. مګر پر دې سربېره يې د چاپېريال ساتنې په اړه د پاریس تړون ته پر ژمنتيا تر فشار لاندې راووست او هره شېبه يې د امریکا ارزښتونه او نړيوال شهرت ورياداوه.
نو تر ډېره په کابل کې د آلمان سفارت ته څېرمه د داسې ستري چاودنې ترسره کول، په حقيقت کې آلمان ته د امریکا له غوښتنو څخه د سرغړونې په بدل کې هره شېبه د درنې بيې د پرېکولو، د پيغام رسول وو او بس. ترڅو د آلمان په ګډون خپلو ټولو سترو رقيبانو ته وښيي چې په ټولو مستعمرو کې موږ د دې امکانات لرو، چې ستاسو ګټې او شتمنی له دا ډول ستونزو سره مخ کړو. نو د دغه راز پيغام رسولو لپاره افغانستان غونډې اشغال شوی او ضعيف هېواد تر ټولو غوره ځای دی، چې د روژې په مبارکه مياشت کې د مظلومو مسلمانانو پر وينو خپلو سترو رقيبانو ته خپل سياسي پيغام مخابره کړي.
دا ځکه چې افغان چارواکي او نظام تر دې کچې د امریکا ګوډاګی دی، چې اصلاً د دې جرئت نشي کولای چې دلته د پېښې د حقيقت په اړه لازمه څېړنه وکړي او يا هغه چارواکي چې په دې لوبه ښه پوهيږي، رسنيو ته خپل ريښتينی نظر څرګند کړي. ځکه وار له مخه يې د هغوی خولې پر ډالرو ور پټې کړې دي.

نو اشرف غني غونډې زبون انسان هم له دغې پېښې څخه سياسي ګټه پورته کوي او د طالبانو او حقاني شبکې ۱۱ کسان چې مخکې پر اعدام محکوم شوي وو، د دغه پېښې له لارې عامه افکار دې ته برابروي، ترڅو دغه کسان اعدام کړي او په افغانستان کې د نيابتي جګړې اور لا اوږد کړي. دا هغه څه دي، چې د طالبانو د اعلاميې له مخې د هغوی په انتقاميه بريدونو کې به په نژدې راتلونکې کې ثابت شي او دا هماغه سوله ده، چې د سترو استعماري هېوادونو تر منځ د مستقيم ټکر مخنيوی کوي، مګر زموږ پر خاوره يې نيابتي جګړه زموږ په وينو او شتمنيو لا زور اخلي.

نو تر هغه چې دغه ذليل او لاسپوڅي چارواکي، چې له خپلو بادارانو سره په وفادارۍ او ريښتينولۍ او له خپلو ولسونو سره پر نفاق او درغلۍ د چارو واګې پر مخ وړي، را ونه پرځول شي او پر ځای يې مخلص، مسلمان او متقي چارواکي، د راشده خلافت په اډانه کې واکمن نشي، زموږ د عبادت مياشت او د خوشالۍ عيدونه به په وار-وار پر غمونو بدليږي.

نو راځئ نور د کفري ډيموکراسۍ او له کفارو سره د دوستۍ تجربه بس کړو او د کفر د واکمنۍ پر وړاندې راپاڅو، د امت پر ټپونو مرهم کېږدو او له حزب التحرير سره يو ځای د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر طريقه په ټولنه کې د بنسټيز تغيير لپاره مبارزه وکړو، ترڅو اسلام د يوازني مشروع نظام «خلافت» په اډانه کې واکمن کړو او دغه نظام به تر کور دننه بشپړ اسلام تطبيق او د بهرني سياست په ترڅ کې به يې د دعوت او جهاد له لارې نړيوالو ته ورسوي. هغه مهال به مو وېش پر يووالي او وېشل شوې خاورې به مو پر يوه واحده اسلامي خاوره بدلې شي او د اسلامي امت هغه پخوانی عزت او برم به بيامومي، چې رمضان به مو د ريښتيني طاعت، نصرت او فتوحاتو مياشت شي او يو ځل بيا به د رسول الله صلی الله عليه وسلم، اصحابو رضی الله عنهم او په احسان سره د هغوی د تابعينو او تبع تابعينو په څېر د نوي، پياوړي، اسلامي ژوند ځلانده دوره پيل کړئ.

**سيف الله مستنير**
**د حزب التحرير ولايه-افغانستان د مطبوعاتي دفتر رييس**